# جنګي سپي



ليکوال : محب الله زغم

د کتاب پېژندنه :

د کتاب نوم : جنګي سپی
لیکوال : محب الله زغم
انځورګر : الحاج عبدالهادی تپاند
اوډون : حفیظ الله یاور
د چاپ کال : ۱۳۸۷
www.Ketabtoon.net

**ډالۍ :**

خپلو زامنو محبوب الله ، روهین او رښتین ته یې په مینه ډالۍ کوم

جنګي سپی د خپل کور مخې ته ولاړ و. د هغه زنځیر په ونې پورې تړلی و. مخې ته یې په یوه لوی غاب کې یوڅه غوښې او هډوکي پراته وو. څنګ ته یې د تالي په تل کې شېدې پاتې وې. یوه کوچنۍ سپۍ تالي ته ورنژدې شوه. خپله ژبه یې راایستلې وه. جنګي سپي خپله لویه خوله خلاصه کړه ، تېرې داړې یې ښکاره شوې. هغه وغرېده: څه کوې ؟



سپی لکی و ښوروله او ویې ویل : وړې یمه ، شیدو ته مې زړه کیږي.

جنګي سپي وویل : ځغله ، مفت خوره. خاوند خو مو هسې چا ته شیدې نه ورکوي.

وړې سپی په حیرانی وویل : نو څنګه یې ورکوي ؟

جنګي سپي خپله پلنه غاړه هسکه کړه او په ډډ غږ یې وویل : زه خویې همداسې ګټم ، همداسې یې څټم. ها بله ورځ مې په جنګ کې ورته بلا ډېرې پیسې وګټلې. ته خو یې هسې د خپلې لور د سات تیری لپاره راوستې یې که نه ته خو هیڅ په درد نه لګیږې.



سپی ورته زاری وکړې خو هغه ورته  شیدې ورنکړې.

یوه ورځ سهار د هغوی ښښتن دجنګي سپي زنځیر خلاص کړ او سراچې موټر ته یې پورته کړ. هغه په موسکا سپی ته وویل: دا دی ما بیا جنګ ته بیایي ، زه به بیا ورته پیسې وګټم. تا غوندې مفت خوره خو نه یم.

سپی د شیدو تالي ته وکتل او په زړه کې یې وویل چې کاشکې زه هم غټه وای او په جنګ کې مې پیسې ګټلای.



غرمې مهال موټر انګړ ته راننوت. سپی یې راکښته کړ. د هغه ورمېږ په وینو سور و. سر یې ټیټ نیولی و. لنډه لکۍ یې ځړېدلې وه. سترګې یې سرې او تنګې وې. ژبه یې راوتلې وه او ژر ژر یې سا کښله.

هغه یې په ونې پورې وتاړه. خاوند یې کوټې ته لاړ. د واسلینو ډبلی یې راوړ. د سپي د غاړې ټپونه یې پرېمینځل او بیا یې په واسلینو غوړ کړل.



روسته سپي هڅه وکړه چې خپل ټپونه وڅټي ځکه چې د هغه په ناړو کې داسې مواد شته چې زخم رغوي او درد يې کراروي. خو چې هر څه يې کول ژبه يې ټپونو ته نه رسېدله. ډنګره سپۍ لرې ولاړه وه او ورته کتل يې.

د وړې سپۍ زړه پرې وسو. ورنژدې شوه. په وېرېدلي غږ يې وويل : زه يې درته وڅټم ؟

سپي چې له درده تاوېده راتاوېده کېناست او ويې ويل: ډېر خوږېږي.

سپۍ د هغه ټپونه تر هغې وڅټل چې سپی ویده شو.



مازدیگر چې هغه راویښ شو مخې ته یې د شیدو ډک تالی ایښی و. ژبه یې په شیدو کې ډوبه کړه خو بېرته یې سر پورته کړ. سپی ته یې ورنارې کړې: راشه شیدې وڅښه.

سپی وویل : نه ، دا خو ستا برخه ده. تا به پیسې ګټلې وي.

سپي وویل : ما جنګ بایلود. نن مې پیسې نه دي ګټلې. خو ستا ملګرتیا مې وګټله. نور به زه او ته دواړه په یوه کاسه کې ډوډۍ خورو.

څو شېبې وروسته دوې ژبې د شیدو په تالي کې غوټه وې ، یوه د سپي او بله د سپی.

